د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

# جائزه اخستل

د 28 مئ 2026



# د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

**(1):** پهٔ مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بیان: **5** منټه **(2):** دُعا یادول: **5** منټه

**(3):** [د خپلو اعمالو] جائزه: **5** منټه، **ټول وخت:** 15 **منټه-**

نن به د زده کولو او ښودلو پهٔ **حلقو** کښې پهٔ **72 نیک اعمال** کښې **د یو نیک عمل** د **خپلې جائزې اخستو** پهٔ باره کښې ګټه ور معلومات درکولے شي او **د کُفر او فقر نه د پناه دُعا** به یادولے شي- پهٔ اخره کښې به د نیک اعمال رسالې نه اِجتماعي جائزه هم اخستے کیږي- اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم!

## جائزه اخستل

## د دُرُود شریف فضیلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** بے شکه ستاسو نومونه سره د شناخته ماته پیش کولے شي، لهٰذا پهٔ ما باندې پهٔ اَحسن (یعني پهٔ بهترینو الفاظو کښې) دُرودِ پاک لولئ- (1)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## نیک عمل نمبر 15

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د دُنیا او د اخرت د بهترئ د پاره د اِسلامي خوئیندو، د اِسلامي ورونړو او د طالبِ علمانو د پاره د سوالونو پهٔ شکل کښې د نیک اعمال مختلفې رسالې جوړې کړې دي- نن به مونږ د 72 نیک اعمال رسالې نه د **نیک عمل نمبر:** 15 پهٔ باره کښې زدکړه کوو-

**نیک عمل نمبر:** 15 آیا نن تاسو د خپلو اعمالو جائزه اخستې او د نیک اعمال رسالې

1 ... مصنف عبدالرزاق، کتاب الصلاة، باب الصلاة على النبی، جلد:2، صفحه: 140، حدیث: 3116-

خانې مو (*Fill*) ډکې کړې؟ [1]

## نیک اعمال څۀ دي؟

اِمامِ غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: هر ګس له پکار دي چې هغه د ځان سره یوه داسې کاپي کیږدي،چې پۀ هغې کښې پۀ هلاکت کښې د غورځوونکو او نجات ورکوونکو امورو ذِکر شوے وي، ورسره ورسره د ګناهونو او د نیک اعمالو ذِکر هم وي او روزانه دې د دې پۀ مدد سره خپله محاسبه کوي، یعني د خپلو اعمالو پۀ باره کښې دې غور فِکر کوي- [2] امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه زمونږ د اسانۍ او د نفس او شیطان د دوکې نه د بچ کولو د پاره د سوالونو پۀ شکل کښې پۀ دې طرز باندې مختلفې رسالې جوړې کړې دي د پاره د دې چې مونږ د دې پۀ ذریعه خپله محاسبه اوکړو، دې رسالو له د **نیک اعمال** نوم ورکړے شوے دے-

## جائزه څۀ ته وئیلے شي؟

**اهمه خبره:** شیخِ طریقت، امیرِ اهلسنت دامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ العالِیه د نیک جوړیدو د پاره یوه بهترینه نسخه د "**نیک اعمال**" رساله عطا کړې دي، د دعوتِ اسلامي په دیني ماحول کښې د دې رسالې ډکولو په وخت کښې د خپلو اعمالو په باره کښې سوچ او فکر کولو ته **جائزه** وئیلے شي-

## آیت مبارک

الله پاک فرمائیلي دي:

| | |
|---|---|
| يَاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَلۡتَنۡظُرۡ نَفۡسٌ مَّا قَدَّمَتۡ لِغَدٍ ۚ (پارہ:28،سورۃالحشر:18) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: اے ایمان والؤ! د الله نه ویریږئ او هر ګس دې وګوري چې هغۀ د سبا د پاره مخکښې څۀ لیږلي دي- |

---

1...72 نیک اعمال، صفحه:4-

2...احیاء علوم الدین، کتاب التفکر، بیان مجاری الفکر، واما النوع الرابع...الخ، جلد:4، صفحه:522-

د مسلمانانو څلورم خلیفه مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: څوک چې په دُنیا کښې خپل حساب کوي، د هغۀ د پاره به د اخرت حساب اسان وي-[1]

## د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک

عقلمند هغه دے کوم چې د خپل نفس جائزه واخلي او د مرګ نه پس پکار راتلونکي اعمال اوکړي، عاجز (یعني بیوقوفه) هغه دے، کوم چې د نفس په خواهشاتو پسې ځي او د **اللّٰه** پاک نه (د بخښنې) ارمان کوي-[2]

## د جائزې اخستو احکام

(1): په هر ګس باندې لازم دي چې هغه د خپل نفس نه غافله نۀ وي، د خپل نفس جائزه اخلي-[3] (2): د خپل نفس په جائزې اخستو د ګناهونو نه توبه کول واجِب ده-[4] (3): د نیک اعمال په رساله ډکولو (*Fill*) کښې، د خپلې کارکرګئ جوړولو د پاره، چې کوم عمل نۀ وي شوے د هغې په باره کښې د آؤ نخښه (/) لګول یا کوم عمل چې شوے وي، د هغې په باره کښې د (0) نخښه کول دروغ دي-

## د جائزې اخستو فائدې

❀ د لږ ساعت د پاره د خپلو اعمالو جائزه اخستل د 60 کالو د عبادت نه بهتر دي-[5] ❀ د نفس جائزه اخستل جَنّت ته بوتلونکے کار دے ❀ د نفس د جائزې

---

1…نور العرفان، پارہ:28، سورۂ حشر، زیر آیت18۔

2…ترمذی، کتاب صفۃ القیامۃ والرقائق والورع، باب ماجاء فی صفۃ اوانی الحوض، صفحہ:583، حدیث:2459۔

3…احیاء العلوم، کتاب المراقبۃ والمحاسبۃ، المقام الاول من المرابطۃ: المشاطۃ جلد:4، صفحہ:478۔

4…شرح مسلم للنووی، کتاب التوبۃ، باب فی الحض علی التوبۃ …الخ، الجزء السابع عشر، جلد:6صفحہ:67، دار الفیحاء دمشق۔

5…کنز العمال، کتاب الاخلاق، جز:3، جلد:2، صفحہ:48، حدیث:5707۔

اختستو سره د اِنسان کردار صفا سوتره کیږي ❀ د نیکو کولو ترغیب نصیب کیږي ❀ د نفس د جائزې د اختستو سره د نفس او د شیطان د دوکو نه حفاظت کیږي ❀ د نفس د جائزې اختستو سره تقویٰ نصیب کیږي ❀ د اخرت په باره کښې غور او فِکر او په زړهٔ کښې نُور پیدا کوي۔

## د [خپلو اعمالو د] جائزې اختستو د عادت جوړولو طریقې

❀ مرګ ښهٔ ډېر یادوئ ❀ په زړهٔ کښې د **اللّٰه** پاک ویره زیاته کړئ ❀ د نفس د جائزې اختستو په باره کښې د دِین د بزرګانو واقعات لولئ ❀ د قیامت حساب رایاد کړئ او که نن مو خپله جائزه واخسته او نیک اعمال مو اونکړل نو د قیامت په ورځ به چې کله نمر وور وروي، زمکه به د اوسپنې وي، د نفسي نفسي حالت به وي نو د **اللّٰه** پاک په دربار کښې به حساب څنګه ورکوئ۔ د مسلمانانو دویم خلیفه حضرت عمر فاروق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: حَاسِبُوا اَنْفُسَكُم قَبْلَ اَنْ تُحَاسَبُوا، یعنې د خپل نفس محاسبه کوئ! د دې نه مخکښې چې ستاسو حساب واخستے شي۔ [1] ❀ د خپلو اعمالو د جائزې اختستو د عادت جوړولو بهترینه طریقه دا هم ده چې دې د پاره وخت وټاکئ! بیا روزانه په ټاکلے شوي وخت باندې د خپلو اعمالو جائزه اخلئ او د نیک اعمال رسالې خانې (***Fill***) ډکوئ۔

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! نن مونږ د نیک عمل نمبر: **15** مطابق د **خپلو اعمالو د جائزې اختستو** په موضوع باندې ګټه ور معلومات حاصل کړل، راځئ چې نیت اوکړو چې روزانه به د خپلو اعمالو جائزه اخلو او نیک اعمال رساله به ډکوو۔ اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم!

**اللّٰه** پاک دې د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

1...ترمذی، کتاب صفة القيامة والرقائق والورع، باب ماجاء فی صفة اوانی الحوض، صفحه:583، حديث:2459۔

# د ښودلو او زده کولو په حلقو کښې يادولو والا دُعا

## د کُفر او فقر نه د پناه دُعا

اَللّٰھُمَّ اِنِّیْۤ اَعُوْذُبِکَ مِنَ الْکُفْرِ وَالْفَقْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ

ترجمه: اے اللّٰه پاکه! زۀ د کُفر، فقر [يعني غريبئ] او د قبر د عذاب نه ستا پناه غواړم۔ (1)

## د اِجتماعي جائزې طريقه (72 نيک اعمال)

### د روزانه 56 نيک اعمال:

(1): آيا ښه ښه نيتونه مو کړي؟ (2): آيا پينځه واړه نـمونځونه مو د جَمعې سره ادا کړي؟ (3): آيا د هر نـمونځ نه مخکښې مو د نـمونځ دعوت ورکړے؟ (4): آيا د شپې مو سُوْرَةُ الْمُلْك لوستلے يا اوريدلے؟ (5): آيا د هر نـمونځ نه پس مو آية الکرسی، تسبيحِ فاطمه، سُوْرَةُ الِاخلاص لوستلے؟ (6): آيا د کنزُ الايمان نه مو 3 آيتونه يا مو د صِراطُ الـجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسير سره لوستلي يا اوريدلي؟ (7): آيا د شجرې اوراد مو لوستلي؟ (8): آيا 313 کرته مو دُرُود شريف لوستلے؟ (9): آيا سترګې مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (10): آيا غوږونه مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (11): آيا د فضول نظر نه په بچ کيدو سره مو نظر ښکته ساتلے؟ (12): آيا 12 منټه مو د مکـتبة الـمدينه اِصلاحي کتاب لوستلے؟ (13): آيا د اذان او د اِقامت جواب مو ورکړے؟ (14): آيا د غصې علاج مو کړے؟ (15): آيا خپله جائزه مو اخستې؟ (16): آيا د خپل نګران تابعداري مو کړې؟ (17): آيا په تاسو او جي وئيلو سره مو خبرې کړي؟ (18): آيا په مکـتبة الـمدينه بالغان کښې مو لوستلي، يا مو ښودلي؟ (19): آيا د ماسخوتن د جَمعې نه پس په دوو ګينټو کښې

1 ... سنن نسائی، صفحه:231، حديث:1344۔

کور ته رسيدلي يئ؟ (20) : آيا دوه کينتېي مو پۀ ديني کارونو باندې لګولي؟ (21): آيا د سحر د نـمونځ د پاره مو راپاڅول کړي؟ (22): آيا د نورو کورونو ته مو د کتلو نه ځان بچ کړے؟ (23): آيا پۀ کور کښې مو درس ورکړے؟ (24) : آيا د جومات درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (25): آيا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ (26): آيا د زلفو د پريښودو پۀ سُنَّت باندې مو عمل کړے؟ (27): آيا يو موټے ګيره مو پريښودې؟ (28) : آيا د ګناه کولو پۀ شکل کښې مو فوراً توبه کړې؟ (29): آيا د سُنَّت مطابق مو خوراک کړے؟ (30): آيا مسلمانانو ته مو سلام کړے؟ (31) : آيا څۀ نا څۀ مو پۀ سُنَّتو باندې عمل کړے؟ (32): آيا د ماسپښين سنتِ قبليه مو د فرضو نه مخکښې ادا کړي؟ (33): آيا تهجد يا صلوٰةُ الليل مو ادا کړي؟ (34): آيا د اَوَّابِيْن يا اِشْرَاق او څاخت نـمونځ مو کړے؟ (35):آيا د مازديګر يا د ماسخوتن سُنتِ قبليه مو ادا کړي؟ (36): آيا پۀ 12 ديني کارونو کښې مو د يو ديني کار ترغيب ورکړے؟ (37) : آيا د نورو نه غوښتلے شوي څيزونه خو مو اِستعمال کړي نۀ دي؟ (38): آيا د دروغو، غيبت او چغلۍ نه مو ځان ساتلے؟ (39): آيا د څۀ وخت د پاره مو مَدَني چينل کتلے؟ (40): آيا ذاتي دوستي خو مو نۀ ده کړې؟ (41): آيا پۀ وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ (42): آيا د عاجزۍ داسې الفاظ خو مو نۀ دي وئيلي کوم چې زړۀ نۀ دي منلي؟ (43): آيا د صفايۍ او سليقې خيال مو ساتلے؟ (44): آيا د مسلمانانو د عيبونو پرده مو ساتلې؟ (45): آيا د سحر د نـمونځ نه پس مو د تفسير اوريدو /بيانولو پۀ حلقه کښې شرکت کړے؟ (46): آيا د څۀ نا څۀ جائز کار نه مو مخکښې بِسْمِ الله وئيلې؟ (47): آيا چوک درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (48): آيا مور پلار او پير او مرشد ته مو ايصالِ ثواب کړے؟ (49): آيا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ کړے؟ (50): آيا د ټريفک د قوانينو پابندي مو کړې؟ (51): آيا د تنظيمي طريقې مطابق مو مسئله حل کړې؟

(52):آيا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ (53): آيا د فضول خبرو نه مو ځان بچ کړے؟ (54): آيا د ټوقو ټقالو، خندا، زړۀ ازارولو او پۀ کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آيا عمامه شريف مو پۀ سر کړې؟ (56): آيا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قُفلِ مدينه کارکردګي

✿ پۀ ليکلو خبرې کول 12 کرته ✿ پۀ اِشاره باندې خبرې کول 12 کرته ✿ پۀ سترګو کښې د سترګو اچولو بغير خبرې 12 کرته-

## هفته وار 9 نيک اعمال

(57): آيا د اِسلامي خوئيندو هفته وارې اِجتماع ته مو ثوک اِسلامي خور د کور نه ليږلې؟ (58): آيا هفته واره مَدَني مُذاکرَه مو کتلې يا اوريدلې؟ (59): آيا پۀ هفته واره اِجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ (60): آيا يومِ تعطيل اِعْتِکاف مو کړے؟ (61): آيا د مريض يا غم زپلې تپوس يا غم خورې او د چا پۀ وفات کيدو مو تعزيت [لاس نيوه] کړې؟ (62): آيا پۀ هفته کښې مو پۀ يوه ورځ کښې روژه نيولې؟ (63): آيا هفته واره رساله مو لوستلې يا اوريدلې؟ (64): آيا علاقائي دوره مو کړې؟ (65): آيا مخکښې راتلونکې او اوس د نۀ راتلونکو اِسلامي وروڼو مو د ديني ماحول سره تړون پيدا کړو؟